د حزب التحرير
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

پنجشنبه ۰۹ جمادي الأولى، ۱۴۴۵هـ ۲۰۲۳/۱۱/۲۳م گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۵/۰۷

مطبوعاتي اعلامیه

# «ملګري ملتونه» معاصر طاغوت دی او مؤمنان باید وربانديې کافران شي!

د افغانستان د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد طلوع نیوز ته؛ له ملګرو ملتونو سره د افغانستان د یو ځای کېدو د ۷۷مې کلیزې پرمهال ویلي: «تراوسه د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت نهدی پېژندل شوی، نو موږ د هغوی د قوانینو پر وړاندې کوم التزام نهلرو او کله چې په رسمیت وپېژندل شوو، ټولو هغو قوانینو او نورمونو ته چې له اسلامي شریعت سره په ټکر کې نهوي ژمن یوو.» نوموړي همدارنګه په ملګرو ملتونو کې د اسلامي امارت د استازي د حضور غوښتنه کړې او ویلي یې دي چې: «موږ هم د نورو هېوادونو په څېر باید غړیتوب ولرو او په سازمان کې باید د افغانستان د خلکو حق ورکړل شي، څوکۍ وسپارل شي، هغه موقف او مقام چې دی، ورته ورکړل شي.»

په دې اړه د حزب التحریر ولایه - افغانستان مطبوعاتي دفتر د افغانستان اسلامي امارت ته د نصیحت او تذکر په توګه لاندې څو ټکي واضح کوي:

۱. ملګري ملتونه له تاریخي پلوه د هغه اروپایي مسیحي هېوادونو ځایناستی دی، چې د عثماني خلافت د جهاد او فتوحاتو پر وړاندې سره متحد شوي وو او بالاخره یې د خپل اتحاد په واسطه اسلامي خلافت له منځه یووړ او اسلامي خاوره یې په خپلو منځونو کې سره ووېشله.

۲. ملګري ملتونه د هغه له تاسیس څخه تر ننه په اسلامي خاورو کې د اسلامي دولت (خلافت) له رامنځته کېدو څخه د مخنیوي او په اسلامي خاورو کې د استعماري هېوادونو د ګټو د خوندیتوب او تنظیم لپاره کار او فعالیت کوي.

۳. د ملګرو ملتونو ټول قوانین، کنوانسیونونه او پرېکړه لیکونه د امریکا په مشرۍ د سترو استعماري قدرتونو له خوا رامنځ ته شوي، چې له الف څخه تر یا پورې کفري او طاغوتي دي او نه یوازې د اسلام او مسلمانانو، بلکې د ټول بشریت او د هغه د فطرت خلاف دي.

۴. په ملګرو ملتونو کې پر اسلامي خاورو د حاکمو جبریه نظامونو برخه اخیستنې او هلته د دوی استازیتوب، تر اوسه له اسلامي امت او اسلام څخه د کفارو او استعمارګرانو هېڅ شر نه دی دفع کړی، ځکه د دغه سازمان اصلي شریکان د امنیت شورا دایمي غړي هېوادونه - چې ستر استعمارګر او اشغالګر دولتونه - دي او دا نور دولتونه هسې د دوی د ظلم، اشغال او استعمار د ناحقې شاهدان دي. په دې اړه د فلسطین اوسنۍ ناورین او په تېر کې د افغانستان او عراق اشغال یې تر ټولو ښه مثالونه دي.

۵. موږ او تاسو ټول مسلمانان باید په دې باور ولرو چې اسلام د بشري ژوند لپاره یو کامل دین دی، د واده له بستر څخه تر نړیوالو اړیکو پورې ټولو واقعیتونو ته شرعي احکام او حلالرې لري، نو باید د دغه فکري قاعدې پر اساس چې: «هر هغه حکم چې له اسلام سره موافق وي او که مخالف، خو چې له اسلام څخه نه وي، اسلامي امت ته مردود دي» عمل او سیاست وکړو؛ ځکه د جبریه دور ټولو نظامونو تر همدې استدلال لاندې کفري مفکورې، قوانین او پرېکړه لیکونه منلي دي چې وایي؛ «هغه څه یې منو چې له اسلام سره ټکر ونه لري». حال دا چې اوسنی نړیوال نظم، ملګري ملتونه او نړیوال بنسټونه ټول د اسلام او مسلمانانو خلاف او طاغوت دي. نو اسلامي امارت ته د خپلې ۲۰ کلنې قربانۍ او جهاد له امله نه ښایي؛ چې د جبریه نظامونو په ډله کې ورګډ شي، بلکې باید د ستر نړیوال اسلامي نظام د پیل په لومړۍ هسته بدل شي.

نو هر هغه دولت چې غواړي اسلامي وي؛ له اساسه باید اوسنی نړیوال نظم رد کړي، ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو کفري سازمانونو ته باید نه ووایي او د اسلامي بهرني سیاست (دعوت او جهاد) له لارې باید ټولې اسلامي خاورې د جبریه نظامونو له ولکې څخه آزادې او له اسلامي نظام سره یو ځای کړي، تر هغه چې دغه نړیوال نظم چې نه یوازې اسلام او مسلمانان، بلکې د ځمکې پر مخ ټول بشریت او انساني فطرت یې له ګواښ سره مخ کړی دی، له منځه یوسي او پر ځای یې د لوړو اسلامي ارزښتونو پر بنسټ نوی نړیوال نظم رامنځ ته کړي.

﴿قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انفِصَامَ لَهَا وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾ [البقرة: ٢٥٦]

ژباړه: له شک پرته هدایت له ګمراهۍ څخه مشخص شوی دی، نو هغه څوک چې په طاغوت باندې کافر شي او په الله سبحانه وتعالی باندې ایمان راوړي، په تر ټولو کلکه رسۍ یې منګولې لګولې دي، چې هېڅکله نه پرې کېږي او الله سبحانه وتعالی اوربدونکی او پوه دی.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**